Connecting stalk : د مخکی موم د Extra-embryonic coelom د جوړیدو په مبحث کي یا داوري وکړه چي دديCavity له جوړیدو سرهسم Embryo د تروفو پلاست سره د Extra embryonic mesoderm په واسطه چه نوموړي ساختمان په خپل نوبت سره Connecting stalk جوړوي ارتباط پیداکوي د connecting stalk ارزش پدي کي ده چي نوموړي stalk یواځینی ارتباطي چینل دEmbryo او پلاسنتا په مینځ کي دي او

پلاسنتا یواځنی عضوه ده چي د embryo په nutration او Oytenation او همدارنګه د فاضله موادو په لري کول کي رولري د Embryo نشوونما سره سم د Connecting stalk تماس محل کوچني کيږي.

په تدريجی ډول د Embryo د نشوونما سره ددي connecting stalk اتصـالي محل د Embryonic disc خلفی نهایت ته نژدي لیدل کیداي شي لکن Embryoic disc پـه لکـی کي دالتواتود پیداکیدو سره سم نوموړي اتصـالی محل د Connecting stalk د Embryo قدام خواته میلان پیداکوي چي پدي وخت کي صرف په Umblical opering پوري نښتی وي لدي وروسته د وینی اوعیی پـه Embryo او پلاسـنتا دواړوکـی پیداکیږي. د وینـی دغـه اوعـی (شـراین او وریدونـه ) د connecting stalk لـه لاري د placenta د اوعیو سره ارتباط پیداکوي چی همدااوعیی، umbilical cord په نوم ساختمان جوړوي.




Drake: Gray's Anatomy for Students, 2nd Edition.
Copyright © 2009 by Churchill Livingstone, an imprint of Elsevier, Inc. All rights reserved.

نوټ:په رشیمی حیات کي کوم وخت په د تروفو پلاست حجروي طبقه جوړيږي نو پـه ابتداء کی تنها یوه طبقه وي لکن کوم وخت چي Embryo د رحم جوف تـه مهاجرت وکړي د تروفو پلاست په عمیقه وجه کي د میزاشیم حجراتو یوه طبقه جوړيږي چی ددغه دواړه طبقو مجموعی ته Chorion ویل کیږي او هغه جوف چي په هغه کـی Embryo قرار لري د Choronic cavity په نوم یادیږي . د Chorion له سطحی نه ګوته مانند برامدګی چي Vili نومیږي نشئت کوي او دغه Villi د مور د دموي او عیو پواسطه احاطـه شوي وي او خپلـه هر Villi د Capillaries شبکی لرونکی وي دهغه نسج پواسطه چي ددي vilies جدارونـه جوړشوي وي د مور ا و دهغي د ماشوم په مینځ کی د وینی د دوران سلسه قایمیږي. د اخرو دوه میاشتو جنین د Subcutanus Fat د موجودیت په اثر بنه هموار شکل لري.

# دوهم فصل

# FETAL MEMBRANES AND PLACENTA

Placenta اصلاً د Chorioic villi او Decidua basalis له مجموعي نه عبارت دي مخکی موږ وه ویل چې کوم وخت Fertilized ovum رحم ته راشی نو zona pellucida له لاسه ورکوي د zona pellucida د له لاسه ورکولو نه بعد Fertilized ovum د رحم په جدار کي غرس کيږي چي دغه حادثه د ovum د implantation په نوم یادیږي .

د Embryo له Implanation نه بعد درحم په Endometrum کي د رحم Endometrium د Decidua په نوم یادیږي د Fertilized ovum له implination بعد د رحم په اندو میتریوم کی درحم د اندو میتریوم Stromal cells غتیږي مینځونه یې خلاوي پیداکوي او بیا په نوموړو خلاو کی گلیکوجن او lipids ځاي په ځاي کیږي د اندومیتریوم په stromal Cells کي ددغه تغیراتو مینځ ته راتگ په Dicidua basalis نوم یادیږي د dicidua هغه برخه په کوم گي چي placenta جوړیږي (دBlastocyst نه لاندي) د Decidua basalis په نوم ، دDecoduas هغه برخه چي Embryo له uterine lumen جداکوي د Decidua-capsulalris په نوم یادیږي د pregnancy په اواخرو کي د طفل د تولد په وخت کی Decidua له placenta سره یو ځای بیرون ته اطراح کیږي.

مخکی موږ ویلی وه چی د Blastocyst بیرونی طبقه د Trophoblast حجراتو پواسطه جوړه شویده چي په ابتدا کی دحجرات په یوه طبقه د Blastocyst په محیط کی قرار لري لکن وروسته همدار حجرات تکثر کوي الو دیو طبقی په نتیجه کي دوه طبقی مینځ ته راځی.

هغه حجرات چي د Decidua خواته نژدي قرار لري خپل مرز(سرحد) له لاسه ورکوي او دیو سایتو پلازمیک شیټ په شکل چي لرونکی د زیاتو هستو وي تظاهر کوي دغه قسم نسج ته Syncytium ویل کیږي له همد ي کبله د تروفو پلاست د غه شټ د syncytiopropholast په نوم یادیږي ( Plasmodiotrophoblast) دSyncytium نه لاندي د تروفو پلاست حجرات خپلی حجروي غشاوي په خپل حال ساتی او د وهم پوښ د Cytotropholast په نوم جوړوي (Longhans layer).

Syncytiotrophoblast په چټکي سره نشوونما کوي او د نشوونما سره ضخامت حاصلوي او پدي غشاء کي وړي خلاوي د Lacunae په نوم تظاهر کوي په تدریج سره acunae په سایز کي غټیږي او هم په الو کي په غیر منظم ډول موقعیت لري ا وروسته په شعاعی شکل د Blastocyst چار ګرد ځاي نیسی.

Lacunea یو له بل نه د Trabeculae پواسطه جداشویدي په مرور د وخت سره Lacunae یو له بل سره یو ځاي کیږي او ددوي د یو ځاي کیدو په نتیجه کي یوه غټه خلا جوړیږي او ددي غټي خلا چارپیر همدا Trabeculae قرار نیسی . هر یو د Trabeulus چي ګویا تر دي وخت پوري له Syncytiotrophoblast نه جوړ دي ( ۲۸ شکل ).

لدي بعد Cytotrophoblast حجرات په تکثر شروع کوي او د هر Trabeulus په مینځ کي وده کوي چي پدي وخت کي هر Trabeculus د cytotrophoblast نه جوړ دیوي مرکزي برخي لرونکی ده چي دا برخه له بیرون نه دSyncytom په واسطه پوښل شویده

او هر یوه ددي برخو له بیرون نه د مور ددموي او عیو پواسطه چي Lacunar space یي ډک کړي احاطه شویده هر یو دديTrabeculus ته Prmary villus ویل کیږي . له بلی خواExtr-embryonic mesoderm چي د تروفو بلاست داخلي سطحه یي فرش کړیده دهر یو primary villus مرکزي برخي خواته تجاوز کوي نو پدي وخت کي هر یو villus د یو میزودرمی مرکزي برخي لرونکی وي چي له بیرون نه د Cytotrophoblast پواسطه پوښل شوي وي او دا اخري برخه د Syncytom پواسطه پوښل شوي وي دغه ساختمان د Secondary villus په نوم یادیږي.

د مور او ماشوم ترمینح دوینی دوران د همدي villi له لاري تامینیږي.

**د پلاسنتا وظایف :**

1. د اکسیجن ، اوبو ، الکترولایتو او غذائي موادو په انتقال کي له مورنه Fetus ته اول لري.
2. پلاسنتا د کاربن داي اکساید او نورو مضره موادو په اطراح کي له Fetus نه رول لري.
3. پلاسنتا د Barrieer په شکل ځنی بکتریاو او همدارنګه دواګالنو ته ددي اجازه نه ورکوي چي د مور له دوران نه Fetus ته داخل شي.
4. پلاسنتا د ځنو هورمونو په افراز کي لکه پروجسترون او استروجن رول لري.
5. د پلاسنتا له لاري د مور له وجود نه Antibody د طفل وجود ته انتقالیږي.

# دريم فصل

## دوګانګی (TWINS )

دوګانګی په دوه ډوله دي چي عبارت دي له : Dizyoggtic twins یا Fraternal twins او monozygotic twins یا Identical twins په Dizyoggtic کي دوه مشابه OVocytes د دوه مختلفو spermatozoa پواسطه القاح کيږي کيداي شي چي دوي هم جنس او یا مختلف اجناس واوسی . په monozygotic کي یوZtgot په خپل مینځ کي splite کيږي او داسی نظرموجود دي چي اصلاً splitting د zygote په Twocells tage کي صورت نیسی هر یو د دي دوګانګی کیداي شي چي هر یو علیحده placenta او علیحده chorionic cavity ولري کیداي شي چي واحده placenta او واحده Chorionic cavity ولري . پدغه نوع د دوګانګی کي چي کوم ماشومان پیداکيږي هم جنس وي . په لاندي شیما ګانو کي د monozygotic او Dizygotic دوګانګی موضوع باالکل واضح شوي.

# خلورم فصل

# ولادي سوه تشكلات

**ENVIRONMETAL FACTORS .A**

| Congenital malformation | Teratogen |
|---|---|
| **INFECTIOUS AGENTS** | |
| Rubella | Catarac, glaucoma, heart defects, deafness |
| Cytomegalovirus | microcephaly, blindness , mental retardation |
| Hyrpes simplexvirus | Microphthalmia , microcephaly , retinal dysplasia |
| Toxoplasmosis | hydrocephalus, cerebral calcification , microphtalma. |
| Syphilis | mental retardation ,deafness |
| **PHYSICAL AGENTS** | |
| X-rays | microcephaly, spina bifida, cleft palate, limb defects . |

| | |
|---|---|
| anercephaly. | Hyperthermia |

**CHEMICAL AGENTS**

| | |
|---|---|
| limb defects, hart malfomations | Thalidomide |
| anecephaly, hydrocephaly, cleft lip&palate | Aminopterin |
| fetal hydantion syndrome(facial defects, mental retardation . | Diphenyihydanation |
| cleft palate ,heart defects, urgenital&skeletal abnormalities . | Trimethadione |
| heartmalformations | Lithium |
| cleft lip&palate ,hert defects. | Amphetamines |
| chondrodysplasia, microcephaly | Warfrin |
| Limb&central nervous system defects. | LSD |
| fetal alcohol syndrome , short palpebral fissures , maxillary heart defects hypoplasia. | Alcohol |
| vitamin A embryopathy ( small a bnormally shaped ears, mandibular hypoplasia , clert palate, hert defects ) | Vitamin –A |
| multiple neurologicalysmptoms similar to cerebralpalsy . | Organic mercury |

congenital malformation Te ratogen

**HORMONES**

masculinization of female genitalia( fused labia. Clitorial hypertrophy) Androgenic agents

malformation of the uterus, uterine tubes&upper vatins(vaginal cancer),malformed testes . Diethylstil besterol

variety of malformation( heart&neural tube defects). Mathernal diabetes .

**CHROMOSMAL FACTORS - :B**

لکه چي دمخه مو وويل چي په نارمل ډول د يو انسان سوماتيک حجرات ٤٦ عدده کروموزومونه لري چي ٢٢ جوړي يي او توزوم او يوه جوړه يي جنسي کروموزومونه دي که د کروموزومو تعداد په سوماتيک حجرات کي له پورته اندازي تجاوز او نقصان وکړي نو د کروموزمال ابنارمليتيز په نوم ياديږي بعضي ددي ابنار مليتيز په اوتوزوم کروموزومو کي او ځينی يي جنسی کروموزومو کي خاصتاً x کروموزوم کي مينځ ته راځی که اضافی کروموزم په سوماتيک حجرات کي موجود اواسی لکه چي دمخه مو وويل چي ټول کروموزومونه په جوړه يي شکل قرار لري نو چي له هر جوړي سره دا اضافی کروموزوم موجود واوسی نو په عوض د يو جوړي دري عدده کروموزومونه موجود وي چي دهمدي

وجهی د ترایزومی په نوم یادیږي او که فرضاً په جوړه ایی کروموزمو کي پـه کومـه جوړه کي کمبود موجود واوسی د مونوزومي په نوم یادیږي . ترایزومي معمولاً په ۲۱،۱۷ – ۱۸ - ۱۵ جوړو کي او همدرانگه Trisomy X موجود کیدایشی.

## . AUTOSOME ABNORMALITIES .I

**TTROSOMY 21-A :** ددي ترایزومـي پـه نتیجـه کـي Syndrome مـخ یـي سـپوږمي غوندي شکل لري – تنده یي پراخه وي . Downs تاسس کوي پدي سندروم کی simian creases in the hand , exhibit characteristic facial feature او mental retardation لیدل کیږي .

**TRISOMY 17-18 –B :** کوم ماشومان چي نوموړي ابنار ملیتی ولري نولزونکی دی

a. Mental retardation

b. Congenital heart defects

c. Low-set-ears

d. Flexion of fingers and hands

ددي نه علاوه مریض Syndactyly , renal anomalies, micrognathia او دهضمي سیستم سوء تشـکلات هـم لـري. دغـه نـوع ماشـومان معمـولاً د عمـر تـر دوه میاشـتنی پـوري ژوندي پاته کیږي.

**TRISOMY 13-15-C :** ددي ترایزومی په نتیجه کي پـه ماشوم کـی لانـدي حـالات مینځ ته راځی.

a. mental retardation

b. Congenital heart defects

c. Defness

d. Cliftlip

e. Clift palate

f. Eye defects such as microphthalmia , anophthalmia and cloboma

اکثراً ددي ماشومانو تر دري میاشتنی پوري مړه کیږي .

**II. B– SEX CHROMOSOME ABNORMALITIES**

د جنسی کروموزومو لـه جملـی معمولاً X کروموزوم اضـافه وي چـي ددي کروموزوم پـه موجودیت کی په ماشوم کي دلاندي امراضو له جملی یو تظاهر کوي .

1. **KLINEFELTER'S SYNDROME:** نوموړي سندروم پـه نـارینو کـي مینځ تـه راځی او پدي ستدروم کـی ٤٧ کروموزومونـه موجود وي چـي لـه لـدي جملـی ٢٢ جوړي او توزوم او دري عدده XXY کروموزومونه موجود وي په نوموړي سندروم کـي لانـدي افـات موجود وي .

a. sterility

b. Testicular atrophy

c. Hialinization of the seminiferous tubules

d. Gynecomastia

2. **TURNERS SYNDROME :** نومـوړي سـندروم پـه ښـځو کـي ليـدل کيـږي پـدي سندروم کی د سوماتيک حجراتو د کروموزومو تعداد ٤٥ عدده وي چی ۲۲ جوړي او توزوم او يو عدد X کروموزوم وي يعنی XX کرموزوم موجود نـه وي پـدي سـندروم اختـه ښـځی د لاندي ابنار مليتيو لرونکی وي.

a. Absent of ovaries

b. webbed neck

c. lymphedema of the extremities

d. Skeletal deformity

e. mental retardation

3. **TRIPLE X SYNDROME :** ددغه سندروم لرونکی مريضـان infantile حـالت لـري او کمـه انـدازه menses لـري پـدي مريضـانو کـی mental retardation هم ليـدل کيږي . دغه سندروم د XX Ocyta او X- containing سپرم په نتيجه کي مينځ ته راځی.

# دوهم برخه

# SYSTEMIC EMBRYOLOGY

مقدمه : د حاملګی له دريمی مياشتی نه تر ولادت پوري وخت دFetal period په نوم يادیږي پدي مرحله کي د انساجو او اعضاؤ پخيدل او همدارنګه چټکی سره د وجود نشوونما صورت نيسی . د جنين طول ياداچي د Crown-rump(CR(length او يا هم د crown-hell(CH)length (standing height) په واسطه مشخص کیږي د جنين طول او وزن نظر د هغه په عمر په جدول کي واضح کیږي . د Fetal period له عمده تغيراتو څخه يو هم د نور وجود د لوئيدو په تناسب د سراهسته نشوونما دي پدي معنی چي د دريمی مياشتی په شروع کي دfetus تقرياً ۱/۲ د CR lent او دپنځمي مياشت په شروع کي ۱/۳ دCR lenth او تودلد په وخت کي ۱/٤ د CR lent دي بل داچي په دريمه مياشت کی د Fetus مخ د انسان مخ ته ورته شکل اختيار وي سترګی چي اول وحشی خواوکی قرار لري دمخ قدامی قسمت کی موقعيت اختياروي ، غابنونه د دوي اصلی موقعيت ته نژدي د سر په دواړه خواو کی موقعيت اشغالوي اطرافونه هم مناسب طول ځانته برابروي او همدارنګه خارجي تناسلی غړي هم پيداکیږي لکن په څلورمه مياشت کی يو څه اندازه انکشاف کوي په څلورمه او پنځمه مياشت کی دجنين طول په سرعت سره زياتیږي چی تقريباً د توليد د وخت نيمائی طول ته رسیږي پدي وخت کی د جنين د وريځو او سر ويښتان تظاهر کوي.

په پنځمه مياشت کی مور دجنين په حرکت باندي داخل د رحم کي پوهیږي په شپږمه مياشت کی د Fetus پوستکی سور رنګ لري او منظره يي د پوستکی لاندي منضم نسج د نشتوالی په له کبله چين خوردګی ګانی لري داخرو دوه مياشتو جنين د Subcutaneus fat موجوديت په اثر ښه هموار شکل اختياروي.

# اول فصل

## دعظمی سیستم مورفوجنیزس

مخکی لدي چي د عظمي سيستم په تشکل باندي بحث وه کړونوښه به داوي چي اول د هډوکي ساختمان وه پيژنو، ټول همډوکی د ساختمان له نظره په دوه ګروپوويشل شويدي.

1. Spongy bones
2. Compact bones

1. د **SPONGY BONES:** ساختمان داسي دي چي هر يو ددي هډوکو د نازکه صفحونه چي lamella ورته وائی تشکيل شويدي هريو دLamella لرونکی د کولاژن اليافو، ماترکس او د کلسيم مالګودي. ددي نوع هډوکو په تشکيل کي يوه Lamella د بلی لپاسه اينودل کيږي د مجاوري صفحو ترمنځ چي کومه وړه خلا پاتي کيږي د lacuna په نوم ياديږي چي لرونکی د Osteocytes دي له Osteocytes نه وړي بارزي نشئت کوي چي د وړو سوريو (Canaliculi ) له لاري کوم چي lamella سوري کوي تير او د نورو Osteocytes د بارو پواسطه ادامه پيداکوي پدي نوع هډوکو کي يوه lamella چي د بلی د پاسه اينودل کيږي په نتيجه کی يو هډوکی مينځ ته راځی چي مينځ يي خلاوي لري چی نوموړي خلاوي له وعائي نسج څخه چي د Bone marrow په نوم ياديږي ډکی وي. دغه نوع هډوکی د Spongy bones په نوم ياديږي.

2. **COMPACT BONES :** په Compact bones کي Lamellse د يواړه وسطی کانال چارپيريدي ډول تنظيم شوي چي د lamellae ترمنيځ خلاوي ډير وړو کی دي

دغـه نـوع تجمـع د lamellae چـي د یـو کانـال چـارپیر صـورت نیسـی د haversian system په نوم او خپله داکانال د haversiancanal په نوم یادیږي.

پس په خلص ډول داسی ویلای شو چي Compact bones او spongy bones د ساختمان له نظره ډیر کم تفاوت سره لري ځکه چي دواړه نوع د هډوکو له لامیلاو څخه جوړشویدي او همدارنګه دواړه نوع د هډوکو د لاکوینا او کانالیکولاي لرونکی دي چي په دواړه نوع هډوکو کی لاکوینا لرونکی د اوستیو ساینس دي. د اباید علاوه کړو چي داوستیو سایتس څخه علاوه دوه نوعه نور حجرات د هډوکو د تکامل په وخت کي په هډوکو کی مشاهده کیداي شي چي عبارت دي له اوستیو بلاست او اوستیو کلاست څخه دواړه ګروپه د حجراتو له mesenchymel cells نه نشئت کوي ددي اخري دواړو حجراتو له جملی څخه اوستیو بلاست د intercellular matrix ، کولاژن الیافو او همدارنګه په هډوکی کي د کلسیم د ځاي کولو د نده په غاړه لري. او ستیو کلاست حجرات چي پراخه متعددي هستی لري معمولاً د هډوکو په هغه ځایوکی قرار لري چي هغه د انحلال په حال کي وي یعنی دا حجرات bone removal خاصیت لري.

د هډوکو تعظم ( Bones ossification ) : د هډوکو جوړښت په دوه ډوله دي (اندوکوندرال او سیفیکیشن او انتراممبرانوس او سیفیکیشن):

1. **ENDOCHONDRAL OSSIFICATION** : په جنین حیات کی اکثریت هډوکی په غضروفي ډول وي چی بیا هډا غضروفی برخي په هډوکی تعویضیږي د هډوکو دغه نوع تعظم ته Endochondral Ossification ویل کیږي.

2. **INTRAMEMBRANOUS OSSIFICATION** : په ځنو حالاتو کی د هډوکی نسج په عوض ددي چي عضروفی مراحل تیر کړي په داخل د Fibrous

membrane کي د هډوکینه نسج په شکل انکشاف کوي د هډوکو دغه نوع تعظم د انتراممبرانوس او سیفیکیشن په نوم او کوم هډوکي چي پدي ډول تکامل کوي د ممبرانوس هډوکو په نوم یادیږي لکه د کوړپړي د قبی هډوکی ، mandibula او Clavicula هډوکی.

په داخل رحمی حیاتکی دهډوکو تکامل : په جنینی حیات کی عظمي سیستم له parazial mesoderm , late plate mesoderm او Nural crest نه نشئت کوي . parasial mesoderm د Nuraltube په دواړه خواو کی متعد قطعات جوړوي چي دغه قطعات د سر په برخه کي د somitomeras په نوم اود Occipital ناحی نه ښکته د Somites په نوم یادیږي.

سومیتس په قدامی انسی(سکلریتوم) او خلفی وحشي برخو(درمومایتوم) متمایز کیږي.

دجنینی حیات د څلورمي هفتی په اخر کی سکلریتوم حجرات Polymorphous شکل ځانته اختیاروي او یوسست نسج چي د میزانشیم (Embryonic Connective tissue ) په نوم یادیږي جوړوي . چي له همدي میز انشیمال حجراتو نه متعدد حجرات چي په لاندي شیما کی ښودل شوي مینح ته راځی

د سردهډوکو تکامل (انکشاف):skill د انکشاف له مخی په دوه برخو ویشل شوي چي یوه برخو ئي د neurocranium په نوم یادیږي . Neurocranium په دوه برخو ویشل شوي دي.

1. **MEMBRANOUS NEUROCRANIUM :** دا برخه مشتمل په هموارو هډوکو دي کو چي د کوپړي قبه جوړويددي هډوکو تعظم د membranous ossification په شکل صورت نیسی پدي ډول چي په ابتداء کي په هر هډوکي کي د ستنی په شان

هډوکي نـه تيغـه(Boune spicle ) تاسس کوي دغـه هډوکي نـه تيغـه پـه حقيقت کـی د primary ossification center په ننوم يـاديږي د همدي تعظمـی مرکزي پـه شـعاعی شــکل د اطـراف پــه لـورو سـعت پيـداکوي د جنـين لــه نشـوونما سـره او همدارنګـه پـه postnatal life کی membranous هډوکی د هغـه غشـاء پواسطه چي ددي هډوکو بيرونـی سطحه پوښوی او همدارنګه د اوستيو کلاست حجراتو د جذب په اساس نومـوړي هډوکی پراخوالی پيداکوي. (۳۷- شکل ).

**CARTILAGENOUS NEUROCRANIUM :** د سر د هډوکو دا برخه مشتمل په غير منظمو هډوکو دي چي د کـوپړي قاعده جوړوي دا هډوکی چي پـه ابتداء کـي د جداګانـه عضروفو په شکل وي نومړ غضروفونه سره فيوز کيږی او د اندوکوندرال تعظـم پـه اثر پـه هډوکي بـدليمي چـی پـه نتيجـه کـی د کوپړي قاعده جوړوي د Occipital هډوکی قاعده د parachondral cartilage او دري عدده Occipital sclerotomes د جسمونو پواسطه جوړيږي. د Occipital هډوکي پـه قدام کـي يو پليت د hypophyseal cartilage او Trabeculae cranii په نوم قرار لري دغه عضروفونه ډير ژر سره فيوز کيږي او په نتجـه کـي د Sphinoidal هډوکی جسم او د Ethmoidal هډوکی جوړوي. پـدي ترتيـب يـوه اوږده عضروفی صفحه چـی لـه nasal region نــه for amen magnum تـر قدامـی کنـار پـوري امتـدار لـري جوړيږي. دهمدي median plate دواړه خواوتـه ميزانشيما ل حجراتـو تکـاثف راپورتـه کيـږي چـي قـدام تـرين ئـي د Ala orbitalis پـه نـوم يـاديږي چـی داد sphinoidal هډوکی Lesser wing جوړوي د Ala orbitalis شاته Ala temporalis قرار لري چي د sphinoidal هډوکی Greater wing جوړوي. دغه دريم ساختمان چي عبـارت لـه periotic capsule څخـه دي چـی د تمپـورال هډوکی petrous part او mastoid part له هغه څخه نشئت کوي. دغه ساختمانونه لـه يـوي حوالـه medicn plate

سره اوله بلی خواپه خپل مینځ کي یو دبل سره وصلیږي په استثنی د هغه سوریو له کومه چي Cranial nerves له سنعمم نه را وځي (۳۸ شکل ).

**VISCERO CRANIUM** : Viscerocranium مشتمل د مخ په هډوکو دي چی اصلاً د ابتدائی دوه بلعمی قوسو دعضروفونو پواسطه جوړشویدي. داولین بلعومی قوس له خلفی قسمت څخه د maxillary proc په نوم بارزه نشئت کوي کو م چي د سترګو د ناحی لاندي قدامی خواته امتداد پیداکوي او د maxilla هډوکی ،zygomatic هډوکی او د تمپورال هډوکی یو ه برخه ورڅخه نشئت کوي. او د همدي قوس قدامی قسمت د mackel's cartilage یا mandibularproc په نوم یادیږي د meckl;s cartilage په شاو خوا کی چي کوم میزانشیم قرار لري هغه د ممبرانوس او سیفیکیشن پواسطه په ماندیبولا هډوکی بدلیږي . meckl;s cartilage د Sphenomandibularlig له ناحی نه بغیر نور له بینه ځی . دMandibular proc خلفی څوه د دوهم بلعومي قوس په امتداد incus ، Malleus او stepes هډوکی نشئت کوي ، د دغه اخري هډوکو مکمل تعظم د جنینی حیات په څلورمه میاشت کي صورت نیسی. د مخ هډوکی دجوړښت له نظره په میزانشیم کی له neral crest cells څخه مشتق کیږي کوم چي د Frontal bone یوه برخه جوړوي (۳۹- شکل).

**SKULL ABNORMALITIES** : هغه ابنار ملیتیز چي د سر په هډوکوکي مینځ ته راځی عبارت دي له :

a. **CRANIOSCHISIS** : پدي حالت کي په سرکي یو غت Defect موجو د وي او دا حالت د Brain abnormality سره چي په سترګو لیدل کیږي موجود وي.

b. **CRANIOSTENOSIS** : دغه حالت د یو یا حو عدده Suturs (د سر د هډوکو ترمینځ در زونه ) دمخکی له وخته بندیدو په صورت کي مینځ ته راځی چي معمولا پدي

حالت کي جمجمه تنکوالی لري. که چیري Coronal او Larnbdoid د رزونه په یوه خواکی مخکی له وخته بند شي په نتیجه کي په یو حالت چی Plagiocephaly نومیږي منتج کیږي.

**په داخل رحمي ژوند کی د LIMBS ( انکشاف):** د رشیمی حیات د پنځمی هفتی په شروع کي د رشیم د جسم په قدامی جنبی برخو کی د اطرافو برامدگی ګانی ظهور کوي . په ابتداء کي دوي د mesenchymal core په شکل له lat plate mesoderm نه کوم چي په اینده کي د اطراف هډوکی او منضم انساج جوړوي مشتق کیږي نوموړي mesenchymal core له بیرون څخه د Cuboidal ectoderm د یو صفحی پواسطه پوښل شوي وي : د طرف په څوکه کی نوموړي اکتودرم یو څه ضخامت کسبوي او په نتیجه کی apical ridge (AER) ectodermel جوړوي کوم mesenchymal حجرات چي له AER لاندي قرار لري په سریع ډول تکثر کوي او د یوي داسی کتلی په شکل چي نه متمایز کیږي باقی پاته کیږي لکن هغه حجرات چي د AER تاثیر نه لري قرار لري د هغوي متمایز کیدل په عضله او غضروف شروع کیږي پدي اساس د طرف انکشاف له proximal نه Distal خواته صورت نیسی. د شپږمي هفتی درشیم د طرف Terminal برامدګی هموار شکل اختیاروي او په نتیجه کي Hand plate او foot plate جوړوي او هر یو ددي په تعقیب په هر طرف کي د secondary constrictin پواسطه prosimal segment په دوه برخو ویشل کیږي چي پدي وخت کي د اطراف اصلی قسمونه د پیژندو وړ وي د لاسو او خپو ګوتی هغه وخت جوړیږي کله چي په AER کي مړه حجرات دغه برامدګي په پنځو برخو ویشی. د ګوتو بعدي تکامل داکتودرم پنځه برخو د برامدګیو تر تاثیر لاندي صورت نیسی. دعلوي او سفلی طرفو تکامل په عین شکل صورت نیسی په استثنی دیوتفاوت او هغه داچي د سلفی طرف مورفوجنیزس تقریباق ۱-۲ ورځي له علوي طرف نه وروسته صورت

نیسی همدارنګه په اوومه هفته د حاملګی طرفونه مقابل خواته تدورخوري چي علوي طرف نوي درجی وحشي ته تدور خوري او سفلي طرف نوي درجي انسی ته تدور خوري. کوم وخت چي خارجي شکل د طرف وه نیوه نو Mesenchyamal حجرات چي په ابتدائي برامدګي کي یي وجود درلوده سره نژدي کیږي او درشیمی تکامل په شپږمه هفته کي د Hyalinecatilage مودولونه تاسس کوي . د اطرافونو د هډوکو تعظم په اندو کوندرال شکل معمولاً د امبریونیک دوران په اخر کي صورت نیسی. په تولو اوردو هډوکو کی د تعظم ابتدائی مرکز دجنیني حیات تر دولسمی هفتی پوري موجودیدای شي. چي دتعظم ابتدائی مرکز د هډوکي په جسم (Diaphysis) کي تاسس کوي او دواړو خواوته انتشار کوي د تولد په وخت کي تقریباً ټول Diaphysis تعظم کړیوي لاکن دواړه نهایات د هډوکي چي د Epiphyis په نوم یادیږي تردي وخت پوري هم غضروفی وي کم وخت یالر وروسته په هریوEpiphs ا و Epiphysis ترمینځ باقی پاته کیږي د Epiphyeal plate په نوم یادیږي . چي دغه پلیت دهډوکي په اوږدوالی کي قابل مشاهده رول بازي کوي. کوم وخت چي د هډوکی خپل نهائی طول کسب کر نو د دواړو نهایاتو epiphys له Diaphys سره وصل کیږي او Dpiphyseal palte له بینه ځی. په لنډو هډوکو کي Epiphseal plate صرف په یو هایت د هډوکي کي موندل کیږي او په غیر منظمو هډوکو کي لکه فقرات یو یا څو ابتدائی تعظمي مرکزونه او څو عدده ثانوي تعظمي مرکزونه وجود لري.

**LIMBS ABNORMALITIES:** د اطرافو Abnormalities په لاندي ډول سره وي

- **AMELIA**: پدي صورت کي يو يا دواړه طرفه موجود نه وي.
  - **MEROMELIA :** پدي صورت کي صرف لاسونه يا خپي په تني پوري نسبتی وي او نور قسمتونه د اطرافو موجود نه وي.
- **MICROMAILA :** پدي حالت کي طرفونه موجود وي لکن پد غير نارمل ډول لنډوي.
  - **POLYDACTYLY :** پدي حالت کي د لاسو په کوتو او يا د خپو په ګوتو کي اضافی ګوتي موجود وي .
- **SYNDACTYLY**: پدي حال کي د لاسو او يا دخپو د ګوتو له جملی يو يا څو ګوتی يو دبل سره فيوز وي.
- **LOBSTERCLAW :** پدي حالت کي د دوهم او څلورم ميتا کارپل هډوکو او رخوه انساجو تر مينځ يو چاود موجو وي او دريم ميتا کرپل هډوکي او فلانجيل هډوکي موجود نه وي غټه ګوته او index ګوته په خپل مينځ کي لکه څلورمي او پنځمی ګوتو غوندي سره فيوز وي.
- **CLUB FOOT :** دغه ابنار مليتی معمولاً د Syndectyly سره يو ځاي وي او پدي حالت کي دخپی تله د متوسط خواته متوجه وي او دامعمولاً په نارينو کي زيات ليد کيږي.

**په داخل رحمی ژوند کي د ستون فقرات (VERTEBERAL COLUNN) تکامل:**

درشيمی حيات په څلورمه هفته کي د سکيروتوم حجرات له خپلی اصلی ځاي نه د spinal

حجراتو Mesenhymal شاخوا تـه مهاجرت كوي او هلت د notochord او cord h,
ستون جـوړوي د دي حجراتـو مهـاجرت پـه Active شـكل صـورت نيسـی بلكـه د هغـه ساختمانو د نشوونما په اثر چي ددي حجراتو چارپيرقرار لري صـورت نيسـی . د ميزانشيمال حجراتو ستون چي د سكليروتو حجراتو د قطعاتو پواسطه جوړشو ، دغه قطعات يو لـه بل نـه د كمه اندازه خلاو پواسطه چي لرونكي د nd intersegmental arteries جداشـوي دي د كامـل پــه بعـدي مراحلـو كــي د ســكليروتوم دهـري قطعــي خلفــي قسـمت پــه ســريع ډول protifration كـوي او متكـاثف كيږي د سـكليروتو د قطعـاتو د proliferation پـه نتيجـه كي د سكليروتوم د يوي قطعی خلفی نهايت د همجواري قطعی لـه قدامي نهايت سره وصـل كيږي لـدي كبلـه چي intersegmental tissue د precartiagenous verteberal body په جوړيدو كي همكاري كوي نو ويلاي شو چي د فقري جسم intersegemtal منشاء لري لـه بلـی خوا mesenchymal حجرات چي د original sclerotom segment د قدامي اوخلفي برخو ترمنيځ قرار لري هغوي proliferation نـه كوي او دا حجرات هغـه خـلاوي چي د precartilagenous verteberal bodies ترمنيځ قرار لري د كـوي لـدي كبلـه دوي د interverte beral disc پـه جوړيدو كي برخـه اخلـی او notochord پـه ساحه كي پـه mucoid degeramation باندي اخته كيږي او په نتيجه كي nucleus pulpsus جـوړي چي بيـا Nucleus pulpsus د حلقوي اليـافو پواسطـه چـي Anulus fibrosus ورتـه وائـي احاطه كيږي . دغه اخري دوه ساختمانونه په ګډه interverte beral disc جوړوي.

**: VERTERBRAL COLUMAN ABMORMALITIES**

- **KLIPPEL FEIL SYNDROME:** پدي سندروم كـي د ستون فقرات درقبـي ناحي فقرات كم وي او متباقی فقرات په خپل منيځ كـي فيوز او يـا داچـي غير نـارمل شـكل لري.

- **(SPINA BIFIDA)CLEFT VERTEBRA :** پـدي حـال كـي د spinal cord انبارملیتی هم موجود وي او معمولاً په ستون فقرات كـي Defect موجود وي چي معمولاً spinal cord د همدي Defect له لاري بيرون راوتلی وي.

په داخل رحمـي ژونـد كـي د Ribs اوsternum هډوكو تكامل (انكشـاف): پښـتي اصـلاً د صـدري فقراتـو لـه Costal process څخـه منـيځ تـه راځـی لـدي كبلـه ويـلاي شـو چـي د proximal mesoderm له Sclerotic portion نه مشتق شـويدي. او د سټرنوم هډوكي د body wall په قدامي قسمت كي له سوماتيک ميزودرم نه په مستقل ډول مينځ ته راځی.

# دوهم فصل

## د عضلي سيستم مورفو جنيزس

مخکی موږ وويل چي د paraxial mesoderm نه Somites مينځ تـه راځـی کوم چـي د نيورال تيوب دواړو خواوته قرار لري که له سوميت نه يوه عرضانی مقطع واخيستل شـي نـو وبه ليدل شي چي هر يو سوميت له دري برخو څخه تشکيل شويدي چي عبارت دي له :

1. **قـدامی انسـي برخـه (VENTEROMEDIAL PART) :** د سـوميت دابرخـه د سکليروتو په نوم ياديږي چي دغه حجرات انسی خواته مهاجرت کوي او ستون فقرات او اضلاع ورڅخه نشئت کوي.
2. **وحشی برخه (LAT PART):** د سوميت دابرخـه د درمـاتو پـه نـوم ياديږي چـي لـدي حجراتو نه د پوستکی درمس او subcutaneous نسج مينځ ته راځی.
3. **وسطی برخه (INTERMEDIATE PART ) :** د سوميت دابرخـه د مـايوتو پـه نـوم ياديږي چي مخطط عضـلات ورڅـه نشئت کوي . د انـاتومي لـه نظره پوهيږو چـي دبـدن ټول عضلات په دوه گروپو ويشل شويدي چي عبارت دي له مخططو عضلاتو او ملسـاء عضلاتو څخه.

مخطـط عضـلات بيـا پـه دوه گروپونـو ويشـل شـويدي (ارادي مخطـط غضـلات ( skeletal muscles ) ا او غير ارادي مخطط عضلات (Cardiac muscle )).

موږ په اول کې ارادي مخطط بيا غير ارادي مخطط عضلات او اخر کې د ملساء عضلاتو تکامل تر بحث لاندي نيسو.

**په داخل رحمی ژوند کې د ارادي مخططو عضلاتو تکامل:** د تنې د خلفي قسمت عضلات له myotomes څخه مينځ ته راځی پدي ډول چې هر مايوتوم دsegmental nerve سره رابطه قايموي بيا ډير ژر هر مايوتوم په دوه برخو ويشل کيږي چې عبارت دي له dorsal part او ventral part څخه چې له dorsal part څخه يې هغه عضلات چې د spinal nerve د Dorsal primary ramus پواسطه تعصيب کيږي نشئت کوي او له Ventral part څخه ئې هغه عضلات چې د spinal nerve دventral primary ramus پواسطه تعصيب کيږي نشئت کوي. هر مايوتوم علاوه له پورته تغير څخه د يو تعداد نورو تغيراتو سره هم مخامخ کيږي يعنی هر مايوتوم کيداي شي چې په خپل مينځ کې splite شي او خپل اصل ځاي ته تغير مکان وکړي او ردوالی کسب کړي او دوک مانند شکل اختيار کړي چې دغه نوع حجراتو ته بيا myoblast ويل کيږی و يو له له بل سره يوځای شي او اوږده عضلی الياف چې متعددي هستی ولري جوړ ي کړي دغه نوع اليافو ته myofibril ويل کيږي. کيدايشي چې مايوتوم استحاله وکړي چې دا ستحالی په نتجه کې عضلي صفاق جوړ وي، داسي هم کيدايشي چې يو مايوتوم له بلی سره فيوز شي چې ددي په نتيجه کې داسی عضلات مينځ ته راځی چې د دوه يا زياتو اعصابو پواسطه تعصيب کيږي. ددي نه علاوه striated muscles له ميزانشيمال حجراتو نه هم نشئت کوي چې پدي گروپ کې د اطرافو عضلات، دبطن د قدامی جدار عضلات او د صدر د قدامي جدار عضلات شامل دي، د سراو غاړي عضلات د bronchial arches له mesenchyme څخه نشئت کوي.

**په داخل رحمی ژوند کی د CARDIAC MUSCLE تکامل :** قلبي عضله له هغه splanhnopleuric mesodermal layer په کوم چې د Heart tube او pericardium د انکشاف په وخت کي له هغي سره نژدي رابطه لري نشئت کوي.

په داخل رحمی ژوند کي د Smooth muscles تکامل: ټول ملساء عضلات په استثني د iris عضلاتو ( د iris عضلات د Optic cup له اکتودرم څخه نشئت کوي) له میزودرم نه نشئت کوي د احشاو د جدار ملساء عضلات د هغه Splanchnopleuric mesoderm نه چې لدي ساختمانو سره نژدي ارتباط لري نشئت کوي.

# دریم فصل

## د زړه او د وینی درګونو مورفو جنیزس

قلبي وعائي سیستم د رشیمی حیات د دریمی هفتی په وسط کي تظاهر کوی پدي ډول چي زړه په ابتداء کي د دوه Endotheleal heart tubes په شکل مینځ ته راځی په ډیر ژر ددي دواړو تیوبو قدامي قسمتونه یو د بل سره یوځاي کیږي او خلفي قسمتونه ئي په مستقل ډول امتداد پیداکوي.

په عین وخت کي heart tube په ځینو ځایو کي توسع ګاني سنئي چي د اتوسع ګاني د Bulbus ,atrium, yntricle , cardis او sinus venosus په نوم یادیږي د ventricle او atrium برخي د یو باریکه کانال پواسطه چي د Atrio-ventricular canal په نوم یادیږي سره ارتباط لري.

Sinus venosus په خپل نوبت سره د دري برخو لرونکی دي چي یوه یي مرکزي برخه ده کومه چي د Atrium سره وصله ده او دوه نوري یي جنبي برخي دي چي د left /right horns په نوم یادیږي .Bulbus cardis موږ ته درره د دهلیز نهایت را په ګوته کوي چي دا برخه لرونکی د (prosimal part(conus او (distal part( truncus arteriosus ده. trances artriosus قدام خواته د Aortic sac پواسطه ادامه پیداکوي.

یو عدد Vitllin vein له yolk sac ،یو عددUmblical vein له پلاسنتا او یو common cardinal vein د وجود له جدار نه د sinus venousus له هر horn سره یوځاي کیږي.

د Heart tube دبرخو سرنوشت :

1. **SINUS VENOUSUS :** د sinus venosus جسم اوښی شاخ په Common atrail charnber کي مدعم کيږي او په نتيجه کی د right atrium يوه برخه جوړوي لدي کبله Right common cardinal vein کوم چي د S.V.C اخري برخه جوړوي او Right viteline vein کوم چي د I.V.C اخري برخو جوړوي Right atrium ته خلاصيږي.

2. **ATRIUM :** د sinus venosus له مدغم کيدونه بعدAtrial charmber جداکيږي ترڅو R/L atria جوړکړي.

3. **A.V CANAL :** داهم په خپل نوبت سره په دوه برخو ويشل کيږي کو م چي د دهليزونو په جوړيدو کی برخه اخلی.

4. **VENTRICLE :** بطن د cunus برخه په بطينی جوف کي مدغم کيږي چي په تعقيب يي بطين په ښی او چپو برخو ويشل کيږي . او د Trancus srteriusm برخه هم په دوو برخو ويشل کيږي تر څو Ascending aorta اوPulmunary trunk جوړوکړي.

نوټ: Endotheleal heart tubes دهغه splanchnopeuric mesoderm نه چي د pericardial cavity سره نژدي رابطه لري نشئت کوي وروسته له هغه چي د تيوب head fold پيداکړي نو تيوب د pericadialy cavity شاته او د foregut مخی ته قرار نيسي پدي وخت کي تيوب pericardial sac ته له Dorsal side نه تغلف کوي ددي عمل له ترسره کولو سره هغه Splanchopleruic چي د pericardial cavity خلفی خوائي پوښلی Prolifrationکوي تر څو يو صخيم جدار چي دmyoepicardial mantle په نوم

یادیږي جوړ کړي کوم وخت چي تغلف مکمل شي نو تیوبه مکمل ډول د myoepicardial mantle پواسطه احاذه کیږي چي لدي نه بیا cardiac muscle او visceral pericardium نشئت کوي او parie tal part د پریکاردیوم له somatople uric mesoderm نه نشئت کوي.

**د HEART TUBA بیرونی برخه** : د یو څه وخت لپاره heart tube د pericardial cavity له خلفی جدار نه د پریګاردیوم د دوه ورقو پواسذه کوم چی Dorsal mesocardium جوړوي د تعلیق په حال وي، mesocardial sac کي څوړند پاتي کیږي په هر صورت پدي وخت کي د heart tube خلفی برخه (caudal part ) د septum transversum پواسطه پوښل کیږي کومه برخه د heart tube چي د pericardial cavity په داخل کي ده له bulbus cardis او ventricle نه جوړه شوي چي دا برخه په سرعت سره نشوونما کوي او د نشوونما د پرمختګ سره په خپل امتداد u مانندہ التواء پیداکوي چي د Bulbo-ventricular loop په نوم یادیږي. په تدریج سره ATRIUM او sunus venosus چي کوم وخت له septum نه ازاد شول دوي د fentricle علوي خلفي برخه کي ځاي نیسی او heart tube پدي وخت کي د S د توري شکل ځانته غوره کوي.

پدي وخت کي Bulbus cardis(Conus) او ventricle دیوي عمیقه میزابی پواسطه چي دgulbo-ventricular sulcus په نوم یادیږي سره جداکیږي . ددغه میزابی عمق په تدریج سره کمیږي ترهغه چي conus او Ventricle د یو Chamber په شکل تظاهر وکړي چي بیا دا د Trancus arteriosus سره ارتباط پیداکوي چي د atrial chamber ventricle د علوي برخي راته موقعیت لري او trancus arteriobus توسع حاصلوي ددي له توسع سره یوه برخه د Trancus arteriosus مخی خواته په هر طرف د ترانکوس

کي تمایل پیداکوي چي ددي تغیراتو په نتیجه کي د قلب خارجي منظره د قلب په شکل تظاهر کوي.

**د SINUS VENOSUS سرنوشت** : په ابتداء کي Atrial chember او sinus venosus یو دبل سره ازاد ارتباط لري په هر صورت دادواړه ساختمانونه قسماد هغه میزابو پواسطه چي ددي دواړو جوفونو د اتصال په محل کي د heart tube دواړو خواوته تاسس کوي سره جداکيږي. ښی میزابه کم عمقه لکن چپه میزابه ډیر عمیقه کیږي لدي کبله چپه برخه د sinus venosus په مکمل ډول له Atrial chamber نه جداکیږي پدي وخت کي ددي وینه اتریوم ته د sinus دنیمائی ښی خواله لاري داخليږي په عین وخت کي د sinus venosus چپ شاخ په سایز کي ډیر وړو کي کیږي تر هغي چي Left + horn د Right horn دیو شاخ په شکل پاته شي ددغه پورته تغیراتو دوه مهم نتایج په لاندي ډول دي.

1. sinu atrial orifice چي مخکی د Atrial chamber دخلفي قسمت په وسطی برخه کي قرار درلوده په ښی طرف کي موقیعت اشغالوي.
2. sinu atrial orifice چي مخکی عرضانی شکل درلوده عمودي شکل اختیاروي.

دsinu atrial orifice ښندي دښي او چپ venous valves پواسطه احاطه کیږي ددغه والو علوي نهایات سره وصل کیږي او په نتیجه کي septum sptrium جوړوي.

**د A.V CANAL سرنوشت** : نوموړي کانال په اول کي د ګرد سوزي شکل لري بیا عرضا ترايد پیداکوي او په تعقیب یي دوه ضخیمی Trio-Ventricular cushions په Dorsal او Ventral جدار کي راښکاره کیږي دغه دواړه ساختمانونه یو دبلا خواته

نشوونما کوي ترهغي چي نوموړي کانال په دوه مساوي برخو وه ويشي دغه پرده بعضي وخت د Septun intermedium په نوم ياديږي.

**د INTERATRIAL SEPTUM جوړښت** : Atrial chambire خلفا د sinus venousm سره او په قدامی سلفی قسمت کي د A.V canal له لاري د ventricle سره ارتباط لري چي بيا په لاندي ډول نوموړي جوف په ښی او چپ جوفونو ويشل کيږي يو حجاب د Atrial chamber له چپ نه (دsinus venosum د سوري چپ څنګ ته نژدي) راپورته کيږي دغه حجاب د septum primum په نوم ياديږي دغه حجا ښکته خواته د A.V canal د septum intermedium په طرف نشوونما کوي د sptum primum سلفي څنډه د setum intermedium نه د يوي خلا پواسطه چي foramen primum نوميږي جداشويده. د septum primum له نشوونما سرهد intermediurn septum په طرف کوم وخت چي دواړه حجابونه سره وصل شي نو د septum primum علوي جنده راجداکيږي او په نتيجه کي يو سوري د forament secundum په نوم جوړوي چون پدي مرحله کي چپ دهليز وينه له ښی دهليز نه ترلاسه کوي نو ددي ارتباط ډير ضروري دي . septum secundum چي د septum primum او همدارنګه د septum primum ترمنيځ د Atrial chamber له چت نه نشئت کوي او ښکته خواته امتداد پيداکوي دغه حجاب foramen secundium پوښوي پدي وخت کي ښی او چپ دهليزديو مايل Valve لرونکی سوري پواسطه سره ارتباط لري کو م چي د foramen oval په نوم ياديږي د septum secundum سلفی حدود جوړوي باريکه او متحرکه دي په همدي وجه له ښی طرف نه وينه په اساني چپ طرف ته ځی کلن کله چي وينه له چپ خوانه ښی خواته ځی نو د امتحرک نازکه flap د septum secunum په مقابل کي قرار نيسی او foramen secundum بنديږي د ولادت نه وروسته چپ اتريوم چون له سږو نه وينه ترلاسه کوي نو

دوینی د فشار زیاتوالی په چپ خواکی د ښی خوا په نسبت ددي باعث کیږي چې دا متحر ک نـازک Flap د Foramen secundum سره دنښتی پـه حـال پاتـه شـي . او پـه نتیجـه کي پـه دایمی ډول داسوري بندشي چي بقایا ددي سوري له ولادت نـه وروستـه د fossa ovalies پـه نوم باقی پاته کیږي.

**د SINUS VEROSUM مدغمیدل پـه RIGHT ATRIUM کـي**: د inter atrial septum له جوړیدو بعد sinus verosum په right atrium کي مدغم کیږي ښـی او چپ venous valves یو لـه بل نـه جدا کیږي چپ Valve او septum spurium د intertribal septum سره فیوز کیږي او ښـی Venous valves بیرون ته وسعت پیداکوي او په دري برخو ویشل کیږي دغه دري برخ د لاندي ساختمانو په جوړولو کي برخه اخلی.

a. Crista terminalis

b. the valve of I, V ,C

c. the valve of coronary suns

د ښی دهلیز تکامل : د مخکی شرحی نه داسی معلومیږ. چي ښی دهلیز دلاندي ساختمانو څخـه مشتق شوي.

1. the right Half prmairytve atrisss

2. sinus venous

3. the right half of A/V canal

**Pulmunary Vein مدغمیدل (یوځای کیدل):** پـه کوم وخـت چـي septum primum جوړیږي نویو pulmonary vain د Atrium په چپ نیمائي قسمت کي خلاصیږي. کلـه چـي

لرله قلب نه لري شي ن دغه ورته په بنى او چپو شاخواو بيا هر يو ددي اخري شاخو په دوه دوه شعبو ويشل كيږي په تدريج سره د pulmonary vains برخي كوم چي چپ Atrium ته نژدي قرار لري په چپ Atrium مدغم كيږي ليد كبله څلور جداگانه وريدونه نوموړي جوف ته خلاصيږي

د چپ دهليز تكامل : چپ دهليز له لاندي ساختمانو څخه مشتق كيږي.

1. the left half of the primatve arnal chamber
2. the left half of the atriovetricular canal
3. دpulmunar veins مدغم شوي برخي.

**FATE OF BULBUS CARDIS** : موږ مخكى وويل چي bulbus cardis په دوه برخو ويشل كيږي چي عبارت له (Counus) prosimal part او )distal part trances arteriosus) څخه دي . يو spiral(مارپيچي)حجاب په trances arteriosus كي مينځ ته راځى چي دغه مارپيچي حجاب Trancus arteriosus په دوه برخو چي عبارت دي له Ascending aorta او pulmurary trunk څخه دي تقسيموي pulmurary valves او aortic valves له Endocardial cushion كوم چي دconus اوtrancus arteriosus د اتصال په محل كي جوړيږي مشتق كيږي.

**INTERVENTRICULAR SEPTUM :** لكه چي د مخه مو وويل چي د Eulbo ventricular sulcus د محوه كيدو سره سم conus برخه له primitive ventricle سره يوځاي كيږي ي په نتيجه كي ورڅخه يو sub ventricular cavity چي لرونكى د لاندي برخو دي جوړيږي.

1. متوسع سفلي قسمت چي خلفا له دواړو دهليزو سره د ښی او چپ A/V canal پواسطه ارتباط لري.

2. مخروطی علوي قسمت چي له trances arariosus سره ارتباط لري نوموړي cavity د يو حجاب پواسطه چي interventncilar septam ورته وائی په ښی او چپ جوفو ويشل کيږي دغه حجاب په لاندي ډول جوړيږي.

1. دBulbovantrcular cavity له سطحي نه interventricular septum نشئت کوي او پورته خواته نشوونما کوي چي په نتيجه کي سلفی متوسع برخه ددي Cavity په ښي او چپو برخو ويشی نوموړي حجاب له ventricular cushions سره يوځاي کيږي او قسما له دوي سره فيوز کيږي.

2. دوه برامدګی ګاني چي د ښی او چپ Ridge په نوم ياديږي د Bulboventricular cavity د علوي مخروطی برخي څخه راپور ته کيږي ديو د R/L endocuardial cushions په امتداد کوم چي Aortic اوpulmonary سوري سره جدا کوي قرار لري . دغه دواړه برامدګي يو دبل په طرف نشوونما کوي او په نتيجه کي سره فيوز کيږي او Bulbar septum جوړوي نوموړي حجاب ښکته د interventricular حجاب په طرف نشوونما کوي لکن ورسره يو ځاي کيږي نه بلکه د دوي ترمينځ يو Gape پاته کيږي. داGape چي د interventricular حجاب د علوي کنار او د Bulbar septum د سفلی کنار ترمنځ قرار لري دهغه نسج پواسطه چي د atrioventricular cushions د تزايد په نتيجه کي مينځ ته راځی د کيږي د interventricular حجاب غشائي برخه په قدامي او خلفي برخو ويشل شوي يوه يي قدامي برخه ده چي ښی او چپ بطن سره جداکوي او بله ئي خلفی برخه ده.

چي چپ بطن له ښی دهلیز نه جداکوي دغه اخري برخې ته Atrioventricular septum ویل کیږي.

: د قلب انومالی ګاني **CONGENITAL ANOMALIES OF THE HEART** په لاندي ډول سره دي.

A. **ANOMALIES OF POSITION** : نوموړي انومالی ګاني په لاندي ډول سره دي.

a. **Dextrocardia** : پدي انومالي کي د قلب دښی طرف ساختمانونه په چپ خوا او د چپ خوا ساختمانونه په ښي خوا کي قرار لري.

b. **Ectopic cardis** : پدي انومالی کي د Chest wall د نقيصي په اثر زړه له بيرون نه د ليدلو وړ وي.

B. **ATRESIA OR STENOSIS** : پدي حالت کي د قلب د فوهاتو له جملی یو یا څو عدده د دوي Stenosis او یاه هم مکمل بندش (atrestia ) لي.

C. **ABNRMAL GROWTH** : پدي حالت کي کيدايشی په والونو کی اضافی کسپونه موجود وي.

کيداي شي چپ اتريوم د Transversi septum پواسطه په دوه برخو ویشل شوي وي او یا هم کيداي شي چپ myocardium ښه انکشاف نه وي کړي.

**DEFECTIVE FORMATION OF SEPTA** .D

Interatricular septal defect

interatrel septal defect

defect of the spiral septum

(پدي حالت كي spiral septum نه جوړيږي). Patent ductus arteripsus

Atrioventricular canal defect : د نوموړي كانال د نقيصى په وجه د قلب څلور واړه جوفونه يودبل سره ارتباط پيداكوي.

**COMBINED DEFECTS .E** : د پورتنيو تقيصو له جملى يو يا زياتي كيداي شي په يو مريض كي موجود واوسى لكهFallot, tetralogy چي پدي ناروغي كي لاندي نقيصي موجودي وي.

Interventricular septal defect

Pulmonary stenosis

Hypertrophy of right ventricle

Aorta د ventricular septrum د پورتني ازاد كنار د پاسه قرار لري.

(٥٤ – شكل)

كيدايشى چي پريكار د قسماً او يا كاملاً موجود ونه اوسى

كيدايشي د قلب په تنبهى سيستم كي نقيصه موجوده و اوسى.

## Anomalies of relationship of chambers to great vessels

Transposation of great vessels : پدي صورت کي Aorta له ښی بطن نه او pulmonary trunk له چپ بطن نه نشئت کوي.

Taussing –Bing syndroe: پدي سندروم کي Aorta له ښي بطن نه نشئت کوي او pulmonary trunk د ښی او چپ بطن د پاسه قرار لري . او پدي حالت کي interventricular septal defect موجود وي.

S.V.C او I.V.C کيدايشي نه چپ دهليز خاتمه ومومي.

کيدايشي pulmonary veins په ښي دهليز خاتمه پيداکړي.

## ARTERIES

**PHARYNGEAL ARCH ARTERIES AND THRIR FATE :** د شراينو د تکامل په ابتدائی مرحله کي اولين شراين چي ظهور کوي عبارت له ښی او چپ Primative aortae څخه دي چي هر يو ددوي د Endocardial heart tube په امتداد قرار لري، هر يو primativ aorta لرونکی د ventral protion چي د Foregut په قدام کي قرار لري، Arched portion چي په First pharyngeal arch کي موقعيت لري او Dorsal protion چي د Gut په خلف کي موقعيت لري. د دواړه Endocardial تيوبونو له يوځاي کيدو نه بعد دواړه Ventral aorta قسماً سره يوځاي کيږي ترڅو Aortic sac جوړ کړي.

ددي په تعقيب له۲-٦ بلعومي قوسونه تظاهرکوي هر يو ددي قوسونو قداما د Aortic sac له ښي او چپ شاخ سره او خلفا له Dorsal aorta سره اتصال پيداکوي.

د سر، غاړه او صدر غټ شريانونه له همدي قوسونو نه نشئت کوي اول ، دوهم او پنځم بعلومي قوسونه له بينه ځي صرف دريم، څلورم او شپږم بلعومي قوسونه چي له Aortic sac سره ارتباط لري پاته کيږي چي ددي له جملي 3rd +4th arch arteries د aortic sac په ventralpart کي spiral septum کو م چي truncus arteriosus په دوه برخو ويشي چي ئي pulmonary trunk اوبل يي هم Aorta دي نو د pulmonary trunk وينه يواځي 6th arch artery ته تيريږي او د Ascendig aorta دريم او څلورم Arch aaaaarteries ته تيريږي په پورتنيو شرياني قوسونو کي څه تغيرات صورت نيسی چي په لاندي ډول دي.

دواړه Dorsal aorta قدام خواته نشوونما کوي.

د Dorsal aorta هغه برخه چي د څلورم او دريم شرياني قوسوتر مينځ قرار لري ، په دواړه خواوکي له بينه ځي.

R.dorsal aorta هغه برخه چي دڅلورم شرياني قوس او د دواړه Dorsal aortea د اتصالي محل ترمينځ قرار لري هغه له بينه ځي.

د ښی طرف شپږم شريانی قوس(ښی او چپ شپږم شريانی قوسونه د سږو برامدګيو ته وينه ورکوي) د Dorsal aorta او د سږي د برامدګي ترمينځ له بينه ځي او په چپ طرف کي دغه برخه پاتي کيږي او Ductus arteriosus جوړوي چي دهمدي Duct له لاري وينه په ځينی حيات کي R. ventricle نه Dorsal arota ته تيريږي د ولادت نه بعد دا Duct بنديږي او بقايائي د Lig artersom په شکل پاته کيږي.

هر یو د دریم شرياني قوس یوه برامدگي توليدوي چي قدام خواه نشوونما کوي اوپه نتيجه کي Ext carotid art جوړوي.

Dorsal aorta یو تعداد lat intersegmental شعبات د تني لپاره ورکوي یو لدي نه اووم رقبي segmental شریان دي کوم چي د Upper limb برامدگي اړواکوي (subclavian art ورنه نشئت کوي) په خلص ډول ویلاشو چي:

1. Aorta او Pulmunary trunk د Truncuse arteriosus پواسطه جوړيږي
2. دAortic sac قدامي قسمت Aortic arch جوړوي.
3. Descending aorta : the left dorsal aorta جوړوي.
4. د Aortic sac ښی Horn د پراخیو شیفالیک شریان په جوړیدو کی رول لي.
5. The right $4^{th}$ astery

a. دRight subclavian art پریکسیمال قسمت جوړوي باقی قسمت ئي د اووم segmental art مشتق کيږي.

b. په چپ خواکی subclavian art په مکمل ډول له اووم segmental art نه منشاء اخلی.

6. په دواړو خواوکي دریم شریانی قوسود Common carotid art په جوړید کی رول لري.

7. pulmonary arteries د شپږ م شریانی قوسو له برخو چي د pulmonary trunk او Branch of lunges bud ترمینځ موقعیت لري نشئت کوي.

دري ګروپه شعبات ورکوي. primitive dorsal aorta

1. the ventral splanchnic arteries: دغه شریانونه د Gut برخي اړوا کوي چي مهم شـریانونه ئـي عبـارت دي لـه celica , mesenteric Sup او inf, mesenteric شریانونه څخه.

2. The lateral splanchnic arteries هغـه سـاختمانونه اړواکـوي چــي لــه lntermediate mesoderm نـه نشئت کوي لکه spermatic , Phranic art, suprarenal art, renal art یا ovarian شریانونه.

3. Dorao-lateral (somatic interegmental) branches دغـه شریانونه عبـارت دي له intercostals او lumbar شریانو څخه (۵۷ شکل ).

**DEVELOPMENT OF THE ARTERIES OF THE LIMB** : اطرافونـه د

somatic interegmental شریانو د جنبی شعباتو پواسطه اړواکیږي هر یو دطرف یو یو محوري شـریان (axis art) لـري نومـوړي شـریان د طـرف د مرکـزي محـور پـه استقامت سیرلوي نور شریانونه له نوموړي شریان نـه نشئت کوي د علوي طرف Axis art د اووم رقبــی intersegmental شــریان پواســطه جــوړیږي. چــي پــه دغــه شــریان د Ant teries Axillary, subclavian, brachial, interosseusar, او Deep palmar arch په شکل پاتي کیږي د تکامل په بعدي مراحلو کي Radial او Ulnar شریانونه هم پیداکیږي د سفلی طرف د مرکزي محور پـه استقامت سیرلري نـور شـریانونه لـه نومـوړي شـریان نـه نشئت کوي نظر پـه مختلفو ساحو د سلفي طرف کي د سفلي طرف د محوري شـریان نـوم هـم فرق کوي.

